NHS
Mersey Care
NHS Foundation Trust

Community and Mental Health Services

# Social Inclusion Team

د NHS خدماتو ته لاسرسي لپاره تاسي سره مرسته کول

Punjabi

## موږ څوک یو؟

د تولنیز شمولیت ټیم روغتیایی خدماتو پوهه وړاندې کوي او د لاسرسي اسانتیاوې برابروي، په ځانګړي توګه د متنوع کلتوري ډلو لپاره پشمول د BME او D/کڼو ټولنو. موږ په لیورپول کې د ژبان لیدونکي افرادو او کورنیو ملاتړ لپاره یولړ مسلکي افرادو او ادارو سره ارتباط لرو.

موږ د روغتیا اړیکې او مشورت نارینه او ښځینه کارکونکي لرو چې په ټولنه کې میشت هغه افرادو او ډلو لپاره ملاتړ وړاندې کوي چې د هغوی فزیکي او رواني روغتیا ښه کولو لپاره موجود خدماتو او فرصتونو ته لاسرسي کې د ستونزو سره مخ کیږي.

## موږ کوم ملاتړ وړاندې کوو؟

د تولنیز شمولیت ټیم غواړي ستاسي او ستاسي د کورنۍ روغتیا او سالمیت وده وکړي، دا ټیم کولی شي د لاندې مواردو پشمول یولړ مسایلو په اړه عملي مشوره او ملاتړ وړاندې کوي:

- د روغتیا خدماتو ته لاسرسي او د عمومي ډاکټر (GP) سره راجستر کیدو په برخه کې مرسته
- هغه ځایی خدماتو اعلانات وړاندې کول چې ممکن تاسي ورته په ټولنه کې اړتیا ولرئ
- تاسي سره ملاتړ کول چې تاسي د ټولنې فعالیتونه وپیژنئ او ارتباط ورسره ټینګ کړئ
- ستاسي د پیژندل شوي اړتیاو پربنسټ د مسلکي مشورې وړاندې کول
- د ژباړونکي/ژبې ملاتړ لپاره ترتیبات نیول ترڅو کله موږ په کور کې ستاسي لیدو ته درځو نو شتون ولري
- داډ لاسته راوړل چې تاسي د روغتیا پاملرنې ته لاسرسی ولرئ
- ستاسي د روغتیا او ټولنیزو مسایلو په تړاو ستاسي په استازیتوب وکالت کول

## موږ سره څنګه اړیکه نیولی شئ:

**موږ په ځایی ټولنه کې شتون لرو او د دوشنبه څخه تر جمعه پورې د سهار 9:00 تر ماښام 5:00 پورې موجود یو. مهرباني وکړئ 0151 296 7433 ته تلیفون وکړئ یا بریښنالیک: siteam@merseycare.nhs.uk**

که چیرې ستاسي زنګ د ځواب تلیفون ته وړاندې شي، مهرباني وکړئ پیغام پریږدئ او د ټیم یو غړی به تاسي ته بیرته تلیفون وکړي. موږ کولی شو تاسي په کور کې وویني یا ستاسي ځایی کلینیک یا د ماشومانو مرکز کې ستاسي د لیدلو ترتیبات برابر کړو.

## د اړیکې لپاره نور معلومات:

### NHS 111

NHS 111 د ورځې 24 ساعتونه، په کال کې 365 ورځې حضور لري.
تلیفون کول د ځمکني تلیفونونو او ګرځنده تلیفونو څخه وړیا دي.
کله چې تاسي ژر طبي مرستې ته اړتیا ولرئ NHS 111 تاسي لپاره اسانتیا برابروي چې عاجل روغتیایی خدماتو ته لاسرسی پیدا کړئ.

**زنګ وهل: 111 ته زنګ ووهئ یا د ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ: www.nhs.uk/111**

---

**Liverpool City Council**
**تیلیفون شمېره: 0151 233 3000**
**www.liverpool.gov.uk**

**Women's Aid**
**تیلیفون شمېره: 0808 2000 247**
**www.womensaid.org.uk**

**Asylum Link**
**تیلیفون شمېره: 0151 709 1713**
**www.asylumlink.org.uk**

**Merseyside Society for Deaf People**
**تیلیفون شمېره: 0151 228 0888**
**www.msdp.org.uk**

**Migrants Help**
**تیلیفون شمېره: 0808 8000 630**

**British Red Cross**
**تیلیفون شمېره: 0151 702 5067**
**www.redcross.org.uk**

## زموږ ناروغان مهم دي

موږ غواړو د لوړ کيفيت خدمات وړاندې کړو کوم چې زموږ د ټولنو اړتياوې منعکس کو:
دا پدې معني دی چې زموږ لخوا وړاندې کيدونکي خدماتو ښه کولو لپاره نظرونه اورو او
ځواب ورکوو.

که تاسې کوم نظرونه يا انديښني لرئ تاسې کولی شئ
زموږ د مراجعه کونکو د پاملرنې ټيم سره اړيکه ونيسئ:
تليفون: **0151 471 2377**
وړيا تليفون: **0800 328 2941**
بريښناليک: **palsandcomplaints@merseycare.nhs.uk**

په بله ژبه يا فارميټ کې د دې معلوماتو د غوښتنې لپاره
مهرباني وکړئ د مساواتو او تنوع ټيم سره په
**0151 472 7458** اړيکه ونيسئ يا بريښناليک:
**equality2@merseycare.nhs.uk**

تاسې همدارنګه کولی شئ په ټويټر موږ تعقيب کړئ
**Mersey_Care@**

**نوټونه:**

سپتمبر 2018